# Appendix V: Response from the Islamic Emirate of Afghanistan (IEA) to Human Rights Watch

**مننه له دې چې مونږ سره مو د راپور د چمتو کولو لپاره خپل سوالونه شریک کړل، ستاسو د سوالونو جوابونه په لاندې ډول دی:**

سوال: ستاسې یوه پوښتنه دا وه چې د هلمند، وردګو او کندوز په څو ولسوالیو کې مو ښوونې او روزنې ته لاسرسی وارزوله او په دې دریو ولایتونو کې مو د افغانستان د اسلامي امارت د رسمي پالیسي په پلي کولو مو د پام وړ توپیرونه ولیدل. همدارنګه مو ویلي چې په دوحه کې د امارت د مسؤلینو سره په ملاقات کې تاسو ته ویل شوي وو چې که ټولنه د تعلیم غوښتنه ونه کړي نو پالیسي (انجونو او ښځو ته تعلیم ته اجازه ورکول) نه پلي کیږي، ایا دا سمه ده؟

جواب: د تعلیم او تربیې په برخه کې د اسلامي امارت پالیسي د ټول هیواد لپاره یکسان ده او د ولایتونو ترمنځ یې کوم توپیر نشته، البته د ځینو ولایاتو، ولسوالیو او کلیو امنیتي شرایطو ته په کتلو سره کله نا کله د پالیسی د پلي کولو زمینه نه وي برابره، ځکه ځینې اوقات د یوې سیمې او بلې ترمنځ د پالیسی په تطبیق کې فرق محسوسیږي. همدارنګه مونږ تیر کال ستاسو سره په مجلس کې دا ویلي وو چې په ځینو ځایونو کې ځینې ټولنې ځینو مشکلاتو ته په کتو سره زړه نه ښه کوي چې خپل اولادونه تعلیمي ادارو ته ولیږي، سربیره پر دې مونږ یې تشویقوو او کوشش کوو چې زمینه ورته برابره شي، خو که سره له دې دوی په دې برخه کې دلچسپي ونه لري نو بیا په دې برخه خلک په زور نه شو مجبورولای، ځکه چې حفظ د نفس په تعلیم باندې مقدم دی.

پوښتنه: تاسې په دې اړه پوښتنه کړې چې د اسلامي امارت په مشرتابه کې د انجونو د تعلیم په هکله اختلافات موجود دي.

جواب: د اسلامي امارت د مشرتابه ترمنځ د پالیسی په هکله هیڅ کوم اختلاف وجود نه لري، او هلکانو او نجونو دواړو ته د شریعت په چوکاټ کې او د افغاني عنعناتو سره سم د تعلیم اجازه شته.

پوښتنه: داسې بریښي چې حتی په ورته یا نږدې ولسوالیو کې هم توپیرونه شتون لري...

جواب: په پالیسی کې توپیر شتون نه لري، البته لکه مخکې چې بیان وشو د ځینو مناطقو امنیتي شرایطو ته په کتو سره ځیني اوقات دغه زمینه نه وي برابره، او دا یواځې د انجونو لپاره نه بلکې په ځینو ځایونو کې هلکانو ته هم زمینه نه وي مساعده.

پوښتنه: ایا تاسي کولی شئ دا هم روښانه کړئ چې که ځواني میرمني (پیغلې) د کندز له ولسوالیو څخه وغواړي د کندز په پوهنتون کې برخه واخلي نو اجازه لري؟

جواب: لکه چې مخکې بیان شو، چې د شریعت او بیا د افغاني عنعناتو په چوکاټ کې که وغواړي نو کولای شي، البته امنیت او د ساحې شرایط هم باید په نظر کې ونیول شي، کوم چې په موجوده وخت کې مساعد نه دي.

سوال: مونږ په دې هم پوهیږو چې د کندز په نوآباد کې نوې مدرسې جوړې شوي دي، په مدرسو کې کوم نصاب تدریسیږي؟

جواب: د افغانستان اسلامي امارت په خپلو تشکیلاتو کې د تعلیم او تربیې کمیسون لري چې هغوی وخت په وخت د مدرسو نصاب تر نظر تیروي او د امارت لخوا تصویب شوی نصاب د امارت تر کنترول لاندې سیمو کې تدریسیږي.

سوال: ایا په هلمند کې سیمه ایز طالب چارواکي د تعلیمي پالیسي په اړه پریکړې کولای شي چې د رسمي پالیسی سره توپیر ولري؟

جواب: لکه چې مخکې هم یادونه وشوه امارت د تعلیم او تربیې په اړه یوه پالیسي لري او یو کمیسون یې مخ ته بیایي، البته په ځینو ځایونو کې په تطبیق کې ځنډ د هغې منطقې د شرایطو پورې اړه لري چې هغه هم د امارت د مشرتابه سره په تفاهم پرمخ بیول کیږي.

سوال: تاسي د ګرشک په اړه پوښتنه کړې ده چې هلته تاسو ته ویل شوي چې امن نه وي نو انجوني باید ښونځي ته ولاړې نه شي...؟

جواب: ستاسو ددې پوښتنې جواب په نورو پوښتنو کې شوی، او هغه دا چې امن نه وي، او د خلکو عزت، ځان او مال په امن کې نه وي نو خلک ښونځي ته زړه نه ښه کوي، نه یوازې نجونې بلکې هلکان هم زړه نه ښه کوي. پاتې شوه دا خبره چې د انجونو د تعلیم لپاره باید ټولنه غوښتنه وکړي، په دې برخه کې امارت ټولنه تعلیم او تربیې ته هڅوي او په نشت امکاناتو کې ورته زمینه برابروي، خو که بیا هم د امنیتي ملحوظاتو له امله د ټولنې اطمینان نه حاصلیږي نو امارت نه شي کولای چې په داسې شرایطو کې په خلکو باندې ښونځي ته تګ جبري کړي. که چیرته تعلیمي مؤسسې د امارت د اړوندو مسؤلینو سره تفاهم وکړي او د امارت اصولو ته غاړه کیږدي نو ولې به اجازه نه وي.

سوال: ایا هلته د امر بالمعروف او نهی عن المنکر ریاست شته؟

جواب: امر بالمعروف او نهی عن المنکر په اسلامي جامعه کې یوه وجیبه ده. د اسلامي امارت له لوري د دعوت او ارشاد کمیسون په چوکاټ کې د امر بالمعروف اداره شتون لري چې علماء کرام يې سرپرستي کوي، او د ځانګړي طرزالعمل او اصولو له مخې ټولنه صلاح، رشد، اخوت، خپلمنځي کرکې ختمولو او خیریه کارونو ته رابولي.

سوال: ایا د چارواکو لخوا ددې ډول محدودیتونو پلي کول د ټولې ټولنې لپاره لازمي ده؟

جواب: مونږ نه پوهیږو چې د محدودیتونو څخه مو څه مراد دی. که په یوه ټولنه کې یو شی دود وي نو هغه محدودیت نه بلکې د هغې ټولنې په رواج او عنعناتو باندې تعبیریږي او رواجونه خلک په خپله خوښه او پرته له فشار څخه کوي. او که چیرته مو مراد د شریعت د احکامو عملي کول وي نو هغه اسلامي امارت له خپلو لومړیتوبونو څخه بولي.

سوال: د زیرک تیلیفون په کارولو او د تلویزونونو په هکله د افغانستان اسلامي امارت تګلاره څه ده؟ په ځینو ولسوالیو کې مونږ ته ویل شوي دي چې ورته اجازه نشته...

جواب: په ځیرکو تیلیفونونو، تلویزیون او راډیو د اسلامي امارت له لوري کوم بندیز نشته، البته د سالم استعمال توصیه ورته کیږي.

سوال: ... ایا اسلامي امارت په حکومتدارۍ او په خپله پالیسي او تګلاره کې انتقادي راپورونه به قبول کړي؟

جواب: هیڅ حکومت هم تخریبي راپورونو ته اجازه نه ورکوي، البته که انتقادي راپورونه اصلاحي، د شریعت په چوکاټ کې او د افغاني عنعناتو سره سم وي نو ولې نه، نه یوازې دا چې اجازه ورکوي بلکې تر خپله وسه کوشش کوي چې د داسې راپور په اساس مثبت تغیرات راولي.

سوال: تاسې د حجاب په اړه پوښتنه کړې وه.

جواب: حجاب په اسلام کې یو مهم حکم دی، نو ځکه د اسلامي امارت له لوري میرمنو ته د اسلام د مبارک دین د احکامو مطابق د ستر د مراعات کولو هدایت شوی، کوم ځانګړی لباس نه دی ورته مشخص شوی. کومې پیښې ته چې تاسې اشاره کړې ده، په دې اړه مونږ پلټنه هم وکړه، دغه پیښه هلته د یوه کس د شخصي تمایلاتو له امله رامنځته شوې وه او له تحقیق وروسته دغه مشکل حل شو. او اقلیتونو ته په اسلام کې خپل حقوق ورکړل شوي چې په افغانستان کې هم د شریعت په چوکاټ کې د هغوی ټول حقوق ورکول کیږي.

سوال: د میرمنو د وتلو په اړه.

جواب: له کور څخه د ښځو د باندې د وتلو په اړه اسلام خپل اصل لري، چې هغه د اسلامي امارت پالیسي هم ده، د اسلام له احکامو سره سم میرمنو ته د اسلامي فقهې له لوري د تعین شوي سفر د حد تر اندازې تر کمې مسافې پورې اجازه شته چې له محرم پرته د کوم ضروري کار لپاره د باندې ووزي، که د سفر د تعین شوي حد په انداز کې سفر کوي بیا باید محرم ورسره وي. البته که سیمه، ماحول او وخت خطرناک وي نو مونږ میرمنو ته توصیه کوو چې په داسې ناوړه شرایطو کې یوازې له کور څخه ونه وزي.

سوال: د کابل اداري سره د اړیکو په تړاو..

جواب: دغه معلومات سم نه دي، د شریعت په اساس د یوه کس په جرم بل کس ته، که هغه د هغه د کورنۍ نږدې غړی هم وي، جزا نه ورکول کیږي، او دا د امارت پالیسي هم ده.

سوال: ایا د هغه چا لپاره چي له دولت سره اړیکي لري د محکمي طرز العمل موجود دی؟ څوک د محکمي ریاست کوي؟ او متهم شخص کوم قانوني مصؤنیت لري؟

جواب: امارت هر هغه څوک نه محاکمه کوي چي د کابل د اداري سره کار کوي، البته هغه کسان محاکمه کوي چي د اسلامي امارت په خلاف عملا په جنګ کي دخیل وي، او د داسي خلکو لپاره هم د محکمي طرز العمل موجود دی. زموږ د محاکمو ریاستونه د متخصصو قاضیانو په لاس کي دي او متهم کس له اړینو قانوني مصؤیتونو څخه برخمن دی. متهم کولای شي چي د خپل ځان په دفاع کي شواهد پیش کړي او خپله دفاع وکوي.

نیټه: ۲-۶-۲۰۲۰